# د مطالعې ګټې او اغیزې

لیکنه: اصیل زارع

دې لپاره چې د اکاډمیک چاپیریال په قطار کې راسو، او د پوه لقب تر لاسه کړو باید مطالعه وکړو.

د مطالعې په وخت څلور ټکي ډېر مهم او اړین بلل کیږي:

۱ –کوم څه چې مطالعه کوو، باید په تشخیص او پند اخیستلو کې یې ډېر تمرکز وکړو.

۲ –د مطالعې په وخت کې موږ باید مطالعه په پوره ولوله او جذابیت سره وکړو.

۳ –د مطالعې ګټه باید درک کړو.مطالعه داسي نه ده چې کله مو یوه ورځ وکړل نو، ستاسو څخه پوه شخص جوړسو او ستاسو په دماغ کې رشد راغلی (هو، رشد راځي خو په لږ اندازه)، بلکې مطالعه یعني یوڅه په ادامه سره لوستل. موږ باید خپل په ورځني مهال ویش کې ازادي مطالعې ته وخت ورکړو. هو، هغه مطالعه چې تاسو زده کړه پکښې کوی، هغه مطالعه به تاسو په هغه رشته کې کامیابه کړي.

مطلب دا چې ازاده مطالعه هغه مطالعه ده، چې خپل پر زده کړي سربیره یو بل څه لوستل او مطالعه کول.

۴–د مطالعې څخه مهم توکي په یادول، هغه څه چې موږ مطالعه کوو، باید هغه مهم ټکي یې په یاد کړو تر څو خپلو ملګرو، دوستانو او د کورنۍ غړو ته یې بیان کړو:

مطالعه کول موږ ته څه ګټه رسوي؟

د مطالعې ګټي خورا زیاتي دي، چې ځیني یې په لنډ ډول دلته راوړم:

۱ –مطالعه د انسان دماغ ته داسي رشد ورکوي لکه څنګه چې ورزش بدن ته رشد ورکوي.

۲ –مطالعه د انسان د فکر کولو ساحه زیاتوي.

۳ –مطالعه کول ستاسو دماغ هڅوي تر څو کار وکړي.

۴ –مطالعه کول د انسان حافظه ډیروي.

۵ –مطالعه کول ستاسو د دماغ هڅوي تر څو د ژوند په سختو مسائلو کې درته د مسئلو حل وښي.

۶ –مطالعه کول تاسو ته په ټولنه کې عزت، قدر او درناوی دربخښي.

۷ –مطالعه کول ستاسو قلم (لیکل) سموي، تر څو تاسي هم سبا لیکنه وکړای سی.

۸ –مطالعه کول ستاسو د دماغ تمرکز زیاتوي.

۹ ـمطالعه کول په تاسو کي د علم انګیزه خپروي.
۱۰ ـمطالعه کول مو ځان باندي اعتبار زیاتوي.
۱۱ ـمطالعه کول ستاسو سره د خوب په وخت کي د ښه خوب په لیدلو کي مرسته کوي.
۱۲ ـمطالعه کول ستاسو څخه یو مؤدبانه شخصیت جوړوي.
۱۳ ـد مهارتونو زیاتیدل.
۱۴ ـابتکار راوړونکي به سی.
۱۵ ـله تیروتنو مو ساتي.
۱۶ ـد خبرو کولو په وخت کي د الفاظو ډیریدل.
۱۷ ـمطالعه یو ښه تفریح هم کېدلای سي.
۱۸ -مطالعه زموږ اذهان د منفي خوا څخه و مثبت خوا ته جذب کوي

په څنګه چاپیریال کي مطالعه کولای سو؟
ځیني پوهان او متفکرین په دې باور دي چي د مطالعې کولو لپاره معلوم وخت او ځای ته اړتیا سته، خو برعکس ځیني پوهان بیا باور لري، چي کله تاسو مطالعه تکراري وکړی، نو ستاسو لپاره مطالعه کول یو عادت ګرځي او وروسته ستاسو څخه مطالعه هیڅ رقم مشخص وخت او مشخص ځای نه غواړي.



د مطالعې مقصد او مفهوم په څه کي دئ؟
په مطالعې سره موږ یو علم ځانته حاصل کولای سو تر څو د ژوند په چارو کي ګټه ځیني پورته کړو.
که چیري بد خلک نه وای نو د ښو قدر به هیڅ چا نه کولای، همداسي که چیري بې علمي نه وای نو هیڅ چا به علم حاصل کولو ته دومره ارزښت نه ورکولای لکه څومره چي یې د بې علمۍ په شتون کي ورکوي.

باید کومه مطالعه زیاته وکړو؟

په عمومي توګه الحمدالله د افغانستان ۹۹،۶ سلنه خلک مسلمانان دي، موږ باید دا پر ځان فرض وګڼو چې موږ باید حق اولیت اسلامي مطالعې ته ورکړو.

داسې فکر مه کوئ، چې اسلام یوازې د الله تعالی عبادت ته ترجیح ورکړې، بلکې اسلام هغه حق مکمل دین دئ، چې د ژوندانه هرې مسئلې ته یې په خاص ډول تشریح ورکړې ده.

په څنګه چاپیریال کې مطالعه وکړو؟
په عمومي توګه مطالعه، باید په ارامه فضا کې وکړو، دا ځکه چې په ارامه فضا کې د انسان دماغ پر مطالعه ښه تمرکز کولای سي.

څنګه باید ذهنونه د مطالعې لپاره اماده کړو؟
عموماً زموږ د افغانانو اذهان جنګونو او وحشتونو ځپلي دي، چې د ذهنیت جوړوني پروګرامونو ته اړتیا لري. معارف باید د خلکو د ذهنیت جوړوني لپاره پروګرامونه جوړکړي تر څو د هغه وحشتونو او جنګونو تاثیرات د افغانانو د ذهننونو څخه ووځي او په ځای یې په ذهنونو کې علمي مفکوره را پیداسي.

مطالعه هغه ګټه ده چې انسان یې هیڅکله په هیڅ څیز کې نسي ترلاسه کولای او په دماغ کې یو داسې انګیزه خپروي، چې زموږ دماغ وهڅوي تر څو یوه ګټوره لیکنه وکړي.

هر څه چې مو مطالعه کړل باید د خپلو دوستانو او ملګرو سره یې شریک کړئ، تر څو هغه هم پوه او ستاسو د معلوماتو څخه ګټه واخلي.

په اخیر کې وایم چې مطالعه کول موږ ته داسې مهمه ده لکه خوراک او څښاک کول. هو، چې خوراک او څښاک بدن ته ګټه رسوي، مګر مطالعه زموږ دماغ ته رشد ورکوي. کتاب هغه دوست دئ، چې تاسو ته ښه او بد په واضح توګه بیانوي.
همدا مطالعه ده چې نن یې د بشریت لپاره اسانتیاوې برابرې کړې دي.